Baacha Khan Education Foundation

# امن د تعلیم په ذریعه , Peace throuth Education

د غونډې راپور، بن، افغانیک، ۲۳ می ۲۰۰۸

د باچا خان ایډوکېشن فونډیشن (http://www.bkefoundation.org) مشر محمد رضا خان* په اروپا کې مېشتو پښتنو/افغانانو ته د دغه ټولنې د فعالیت او د تعلیم د لارې د امن د راوستلو په هکله خبرې وکړې.
هغه وویل چې د پښتنو/افغانانو ستونزې د علم د کمي له کبله دي. تقریبا اوه لسیزې مخکې باچا خان دې نتیجې ته رسیدلی و، چې د افغانانو د اصلاح او پرمختګ بنسټیز سنګر علم دی. او د دې مقصد تر لاسه کولو په موخه یې د آزادو سکولونو (ښوونځیو) بنیاد کېښودلو. له بده مرغه د انګلیس او بیا وروسته د پاکستاني واکمنانو د جبر په نتیجه کې دغه مبارک کار نیمګړی پاتی شو.

د خوشالۍ خبره ده، چې د ښاغلیو اسفندیار ولی خان او افراسیاب خټک په مشرۍ او لارښوونه د کال ۲۰۰۷ په فبرورۍ میاشت کې د باچا خان ټرسټ تر سیوري لاندې د باچا خان ایډوکېشن فونډېشن پرانستل شو او د باچا خان د یو لوی آرمان د پوره کیدلو په لاره کې قدم کېښودل شو. په لږه موده کې د پښتنو په مرسته نوموړې ټولنې یو مرکزي دفتر، د استاذانو د روزنې اکاډمي او دوه ښوونځي جوړ کړل.

دغه ښوونځي لاندې خصوصیات لري:

١ - د ښوونې ژبې انګریزي او پښتو ده.
٢- ماشومانو ته د ښوونځي یونیفورم، پنې یا پایزار، کتابونه او نور تعلیمي مواد په وړیا توګه ورکول کیږي.
٣- د پښتو ژبې لپاره فونډیشن په خپله کتابونه نوې چاپ کړي دي، چې منځپانګه یی د پښتني تاریخ او کلتور نمایندګي کوي.
٤- د ښوونځي ترانه د غني خان مشهور شعر "ای زما وطنه د لالونو خزانې زما" ده. چې هر سهار یې ماشومان په شریکه سره وایي.

د باچا خان ایډوکېشن فونډیشن غواړي دغه راز ښوونځي په افغانستان کې هم پیل کړي.

په راتلونکو پنځو کلونو کې دغه ټولنه په پلان کې لري، چې ۱۰۰ لومړني (پرایمري) ښوونځي، ۳٦ لیسې، ٥ کالجونه او یو پوهنتون "یونیورستی" د پښتنو بچیانو د روزنې لپاره جوړ کړي.

په دغو هڅو کې زموږ سره د پښتونخوا، منځني ختیځ، اروپا او شمالي امریکا مېشتو پښتنو/افغانانو هراړخیزې مرستې شوې دي.
له خبرو څخه وروسته د باچا خان ایډوکېشن فونډیشن د کارونو په هکله یو شل دقیقیي مستند فلم وښودل شو.


Afghanistan Information Center-AFGHANIC افغانیک
Justus-von-Liebig-Str 24 Postfach 1327 Ph. +49 228 - 4097630 info@afghanic.org
53121 Bonn, Germany 53003 Bonn, Germany Fax +49 228 - 4097639 www.afghanic.rog

محمد رضا خان په پېښور کې د باچا خان ټرسټ (http://www.baachakhantrust.org) مرستیال مشر هم دی او په دی هکله د یوې پوښتنې په ځواب کې داسې معلومات ورکړ:

د عبدالغفارخان د وصیت پر بنسټ، باچا خان ټرسټ په ۲۰۰۳ م کال کې د خدای بښلي عبدالولي خان په مشرۍ جوړ شو چې اوسنی مشر یې اسفندیار ولي او مرستیال یې افراسیاب خټک دی. دغه ټرسټ لاندې څانګې لري:

- **باچا خان څېړنیز مرکز**
  د باچا خان، خدايي خدمتګارۍ غورځنګ او د افغانانو/پښتنو د تاریخي، کلتوري او ټولنیزو برخو په هکله څېړنه کوي.

- **باچا خان امن کتابتون**
  د باچا خان، خدايي خدمتګارانو او د پښتنو د قومي غورځنګ په اړه مواد راټولوي.

- **پښتون رساله**
  دغه خپرونه په ۱۹۲۸ کال کې د عبدالغفار خان په نوښت رامنځته شوې وه. ټرسټ دغه میاشتنۍ مجله یو ځل بیا راژوندۍ کړه.

- **امن پرېس**
  دلته د پښتو کتابونو، مجلو او نورو مطبوعاتي موادو چاپي چارې تر سره کېږي.

- **Audio Visual Studio**
  ملي ترانې، قامي سندرې او د پښتنو په کلتور پورې مربوط ویډیوګانې او مستند فلمونه جوړېږي.

باچا خان ټرسټ غواړي په راتلونکي کې خپلې هلې ځلې په لاندې برخو کې لاپراخه کړي:

- **یو تلویزیوني چینل**
- **باچا خان کلتوري/هنري مرکز**
- **باچا خان روغتیایي فونډېشن**






**محمد رضا خان په ۲۰۰٦ کې په واشنګتن کې د جورج ټون پوهنتون نه په بین المللي حقوقو کې ماسترۍ ترلاسه کړې ده. دی د امریکا د وکیلانو ټولنې غړی، اوسمهال د باچا خان ایجوکېشن فاونډیشن مشر (Managing Director) او د باچا خان ټرسټ مرستیال مشر دی.*

*راپور: یحیی وردک، wardak@afghanic.org، بن، ۲۵ می ۲۰۰۸ کال*


Afghanistan Information Center-AFGHANIC افغانیک
Justus-von-Liebig-Str 24 | Postfach 1327 | Ph. +49 228 – 4097630 | info@afghanic.org
53121 Bonn, Germany | 53003 Bonn, Germany | Fax +49 228 - 4097639 | www.afghanic.rog